يوه له هغو ويناوو څخه چې خلکو ته له لومړي نبوت څخه پاتې ده دا ده: 'کله چې حيا نه کوې، نو هر څه چې وغواړې هغه وکړه

د ابی مسعود عقبة بن عمرو الأنصاري البدري رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: رسول الله ﷺ وفرمایل: "یوه له هغو ویناوو څخه چې خلکو ته له لومړي نبوت څخه پاتې ده دا ده: 'کله چې حیا نه کوې، نو هر څه چې وغواړې هغه وکړه".

[صحیح دی] [بخاري روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: هغه څه چې له پخوانيو پېغمبرانو څخه يې په اړه خلکو ته وصيت راپاتې دی او د خلکو تر منځ اوړي را اوړي او پېړۍ پر پېړۍ يې يو بل ته په ميراث پريښی، تر دې چې د دې امت سر ته راورسيد دا دی چې، هغه څه ته وګوره چې غواړې ويې کړې، که چيرته داسې يو کار و چې کول يې شرم نه و، نو ويې کړه، او که داسې و چې کول يې شرم و نو پرې يې ږده؛ ځکه چې له بدو کارونو څخه يوازې حيا منع کول کوي، او څوک چې حيا و نه لري، نو په هر بد او ناوړه کار کې ښکيل کيږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66523

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee